# QAZI ABDUL HALEEM ASAR AFGHANI AS A PROSE WRITER

# قاضي عبدالحليم اثر افغاني په حېث د نثر نګار

Noor Zada*

ABSTRACT:

The soil of Khyber Pakhtunkhwa has the potential and credibility to give birth to prominent Pashto intellectuals, writers and scholars who are rightly called the ever shining stars of Pashto Language and Literature. This journey has taken place from Bayazid Rokhan best known as Pir Rokhan when he wrote the first Pashto book (Khair-ul-Bayan) in the sixteen century followed by Khushal Khan Khattak, Rehman Baba, Hameed Baba, Kazim Khan Sheda and many more. In the 20th century can rightly be called the century wherein a number of Pashto intellectuals, prose and phrase writers had given Pashto language and literature new horizons. One of them is Qazi Abdul Haleem Asar Afghani who was not only a good phrase writer, but at the same time was a good Critic Analysts and Prose writer. Beside this, he remained an active Politician, Calligrapher, Historian and an excellent Pashto literary personality.

Qazi Abdul Haleem Asar Afghani was a real supporter of Pashtuns. His name and contributions in the field of Pashto Language, Literature and especially in Prose writing will always be remembered with honor and great respect. In this article, we chose only his contribution in the field of Prose writing, so that the students and researcher may also be familiar with the same.

**KEY WORDS**: Pashto, Literature, Pashtoon, Pashto Language. History, Prose

پښتو ژبه يوه ډېره پخواني ژبه ده او د دي ژبې د ادب لمن ډېره فراخه ده ۔ په دې ژبه کښې هر قسم ادبي استعداد موجود دے ۔اوپه ډېرو خصوصياتو کښې د نورو ژبو نه غوره ده ۔ د پښتو ژبې ادبي پنګه تر ډېره حده پورې کره او پوره ده ۔ په دې ادبي پنګه کښې د پښتو نثرته يو خاص اهميت او ارزښت حاصل دے ۔

ادب په اصل کښې په دوه ډوله دے ۔ چې يو ته نظم او بل ته نثر وائي ۔ نظم هغه چې د يو خاص چوکاټ دننه پکښې شاعري کېږي او نثر هغه چې د رديف او قافيو د قيد نه ازاد وي او روان ليکلے کېږي ۔ نثر د نظم ضد دے، نظم د رديف او قافيو پابند وي، خو د دې په مقابله کښې په نثر کښې دا قسمه پابندي نۀ وي ۔

په تاريخي ډول که مونږ اوګورو نو د پښتو وړومبے نثر نګار محمد هاشم سرواني دے او دوي د "سالو وږمه" نومې کتاب ليکلے دے ۔ د دوي زمانه د ۲۲۳هجري نه تر ۲۹۷ هجري پورې ښودلے کېږي ۔ د دې نه پس سلېمان ماکو چې دور ئې ۶۱۲هجري دے، او د دۀ د کتاب "تذکرة الاولياء" يو سو پاڼې تر لاسه شوې دي ۔ چې د هغې نه ددۀ د نثرد زوروالي اندازه لګي ۔

* Ph.D Scholar, Pashto Department of Pashto University of Peshawar

په دې حقله ښاغلی پروفېسر محمد نواز طائر صېب وائي:

" سره د دې چې د حبيبي صېب د دعوې مطابق پهٔ ۱۲ ۶ه مطابق ۱۲۱۵ء کښې سلېمان ماکو د "تذکرة اولياء" په نوم يو کتاب پهٔ نثر مرسل کښې ليکلے وو او په پښتو کښې د نثر نويسئ دغه انداز تر ډېرې مودې مقبول وو - حبيبي د دغې نثر څهٔ نمونه په خپل تاريخ ادبيات کښې دارنګې ورکړې ده:

په سن دولس او شپږ سوه د هجري تللے ووم او د پښتونخوا په راغو او کليو ګرځېدم او مراقد د اولياؤ او واصلينو مې پلټل او په هر لوري مې کاملان موندل او د دوي په خدمت خاکپاي ووم او هر کله په سلام ورته ولاړ، چې له دې سفره په کور کښېناستم او تناکې و چاودلې د پښو ، بيا پاڅېدلم او له ښتنه مې مرستون شوم ، چې احوال د هغو کاملانو و کاږم ."(1)

د سلېمان ماکو په بابله حبيبي صېب وړاندې ليکي چې:

"سلېمان ماکو د پښتنو پخوانے مؤرخ دے او د دهٔ د نفيس او ګټور کتاب دغه څو پاڼې د پښتو ژبې او رسالو د تاريخ د پاره داسې مفيدې ثابتې شوې چې د ادب او پښتو تاريخ به ئې تر ابده مرهون وي ـ ـ ـ ـ دا کتاب يواځې د اولياؤ تذکره نهٔ ده بلکې د پښتو او ادب يو ډېره ګران بها مرقع ده - د پښتو د نثر تاريخ هم د دې ستر ګور مؤرخ زيار نه هېر وي -"(2)

په دغه بنسټ باندې عبدالحليم اثرافغاني صېب هم په خپل کتاب " پښتو تاريخ (مخطوطه) کښې سلېمان ماکو د نثر باني يادوي - او د دوي پحقله دا بيان کوي:

"داسې معلومېږي چې څهٔ وخت سلېمان ماکو د دې سفر نه واپس خپل ځائې ته رسيدلے دے - نو د څومره پښتنو مشاهيرو او بزرګانو زيارتونه چې ئې کړي دي - د هغوي په احوالو کښې ئې د " تذکرة اولياء" په نوم يو کتاب ليکلے دے - او د هغوي پښتو اشعار او عارفانه اقوال ئې پکښې راجمع کړي دي - هر کله چې د دې کتاب پوره او مکمله نسخه زمونږه پهٔ لاس کښې نشته دے - فقط وړاندينې اتهٔ مخه ئې موندلي شوي دي - نو د هغې په رڼا کښې دا وئيلے شو چې سلېمان ماکو يو پخوانے مؤرخ دے اس د دهٔ د کتاب دغه په شمار يو څو مخونه هم زمونږ د پاره ډېر مفيد او قيمتي معلومات لري -"(3)

د پورتنو حوالو نه مونږ ته دا خبره واضحېږي چې د اولني دور د نثر نګارانو د نثر اثار مونږ ته د يو څو پاڼو په شکل کښې په لاس راغلي دي او په مختلفو لائبرېرو کښې موجود دي او اکثر خلق ئې په قياسونو باندي اتفاق کوي ۔ خو مونږ به دلته دا خبره په ډاګه کړو چې کله د دوېم دور خبره راځي نو د دغه دورنثر مونږ ته په کتابي صورت کښې مخې ته راځي او چې د دغه وخت کوم کتاب په پښتو ادب کښې يو خاص مقام او اهميت لري او د نثر د زوړ والي نمونې په ګوته کوي نو هغه کتاب " خېرالبيان" دے کوم چې پيرروښان ليکلے دے ۔ دا کتاب په څلورو ژبو کښې ليکلے شوے دے چې يوه ژبه پکښې پښتو هم ده ۔ پۀ دې حقله ښاغلے پروفېسر محمد نواز طائر صېب وائي:

"د روښانيانو د تحريک باني او پېشوا د وړومبي د نثر ليکونکو د سر غړے شمېرلے شي ۔ ځکه چې د هغۀ کتاب "خېرالبيان" د پښتو ژبې په موجود نثر کښې د ټولو نه زوړ کتاب ګڼلے شي۔"(4)

د بايزيد انصاري دور د ۹۳۱هجري نه شروع کېږي ۔ د دوي ليکلے شوے کتاب "خيرالبيان" د نثر ښکلې نمونه ده او دا اثر په کتابي شکل کښې خوندي دے ۔ د دې نه پس د پښتو شعر او ادب درېم دور شروع کېږي کوم چې په زرين دور بللے شي ۔ دا دور د سترخوشحال خان خټک بابا نه شروع کېږي ۔ دا دور په پښتو ادب کښې يو ځلنده باب لري ۔ په دې دور کښې خوشحال خان بابا د پښتو ادب لمن ډېره فراخه کړې ده ۔ او پښتو ادب ته ئې د شعر او نثر په مېدان کښې ډېره پنګه ورکړې ده ۔ د دوي نثري کتاب "دستارنامه" په ادبي نړۍ کښې ډېر د قدر وړکتاب دے او نن هم پرې د پښتو ادب لمن ډکه ده ۔

د نثر د دې لنډ شان تاريخي پس منظر نه پس به اوس د نثر د تعريف په حقله د يو څو پوهانو رائې وړاندې کړو چې نثر په اصل کښې څۀ څيز دے

۱۔ ښاغلے صديق الله رښتين صېب:

"د عربو په لغت کښې د پوهې، زيرکۍ، بلنې او د هر شي د اندازې د ساتلو په معنا راغلے دے او په اصطلاح کښې د ادب دوه ډوله دے، يو نفسي ادب دے چې اخلاقي فضيلت اوښېګړې ته وائي او بل درسي ادب دے چې له دې څخه مطلب په ښۀ طريقه وئيل او ليکل او خپل مطلب ښکاره کول دي ۔ "(5)

۲۔ ښاغلے عبدالحئ حبيبي صېب:

"ادب په دوه ډوله وي، يو ته طبيعي او نفسي ادب وايو چې لوړ ئې تعريف راغے او د انسان اخلاقي ښېګړې لکه ښندنه، زغمنه (حلم) او نورې اړه پورې لري، دوهم ډول ته کسبي او درسي ادب وايو چې په لوستنه او زده کړه او پلټنه موندل کېږي او دغه دوهم ډول ادب ته نو د ادب علم هم وائي ۔"(6)

۳۔ ښاغلے سحر یوسفزے:

دوي په خپل کتاب "ادب څۀ دے" کښې د سېنټ اگسټن په حواله د ادب تعریف داسې رانقل کړے دے :

"که زمونږ نه دا تپوس وشي چې ادب وائي څۀ ته ؟ نو مونږ خو زمونږه لوئے لوئے نقادان به په دې وېنا مجبور شي،" که زما نه تپوس نۀ کوې نو زۀ پرې پوهېږم او که زما نه تپوس کوې نو بیا پرې هیڅ نۀ پوهېږم ۔"(7)

۴۔ عبدالاکبر خان صېب:

"د لټرېچر ترجمه په عربۍ او اردو کښې ادب یا ادبیات کوي، اول اول په عربۍ کښې د ادب نه مراد د بني ادم اوچت شریفانه خصلتونه وو چې د هغې د پاره دویم لفظ تهذیب هم شته ، لېکن ورو ورو د ادبیاتو نه نور هم هغه تمام علوم مراد شو چې د هغې د ذهني شائستګۍ او تمدن پاکیزګۍ سره تعلق لرلو او د عجمي تهذیب او ادب اثر ؤ په دا وجه هغوي د لوبو ټوقو او د تفریح مشاغل هم په دې کښې شامل کړل ۔ "(8)

او ښاغلے قاضي عبدالحلیم اثر افغاني صېب د نثر تعریف د خپل وسیع علم په رڼا کښې په دې ډول کوي:

"نثر په لغت کښې ښندلو، پاشلو او خورولو ته وائي او په اصطلاح کښې هغه کلام دے چې د وزن د قېد نه خالي او ازاد وي ۔ "(9)

د پښتو نثر په مختلفو دورونو کښې په مختلفو قسمونو کښې رامخې ته شوے دے ۔ لکه د "خېرالبیان" نثر او داسې د نورو نثر نګارانو نثري پنګه چې په مختلفو شکلونو کښې مونږ ته را په لاس شوې ده ۔ په دې حقله ښاغلے پروفېسر ډاکټر یار محمد مغموم صېب وائي:

"د خېرالبیان د لیک انداز منفرد دے، دا په سجع او مقفٰی نثر کښې لیکلے شوے دے، که څۀ هم د دې کتاب په ځینو ځایونو کښې د اهمو مسئلو وضاحت د پاره د قرآن کریم ایتونه او د رسول پاک ﷺ حدیثونه راغلي دي، مګر اهمه او مرکزي برخه ئې په پښتو نثر مشتمله ده ۔"(10)

د "خېر البیان" د نثر نه ورستو بیا د خوشحال خان خټک بابا نثر په پښتو ادب کښې یو خاص مقام لري ځکه چې د خوشحال باباد نثر یو خپل انداز وو ۔ دې نه پس د نثر عاري دور

شروع کېږي چې دي ته ساده او روان نثر وائي ـ په دي لړ کښې مېرمن بي بي مريم په خپله تحقيقي مقاله کښې وائي:

"نثر د نظم ضد دے اود نظم بعضې اصناف لکه ازاد نظم، معرٰی نظم او په تېره تېره نثر ي نظم د نثر زيات فرق نهٔ لري، بلکې د نثري نظم او نثر تر مينځه فرق کول هم ګران وي، مونږ وينو چې د دنيا په مختلفو ژبو کښې زيات علمي او تحقيقي کار په نثر کښې شوے دے، ځکه چې د نثر جولئ ډېره ارته ده، سينه ئې فراخه ده ـ"(11)

يوه خبره دلته بله څرګندول غواړم چې د بابائے پښتو ګل محمد مومند په حقله وېنا ده چې پښتو ژبې ته ترقي ورکول ددهٔ ميشن ؤ. هغهٔ په دغه لړ کښې د افغانستان لراوبر پښتانهٔ ليکوال د پښتو ژبې خوندي کولو د پاره راجمع کړهٔ او خپل کار ئې شروع کړو ـ او چې کومې زړې نسخې وې هغهٔ ئې هم رابرسېره کړې د هغې په حواله ئې خوندورې مقالې ،رسالې او داسې نور کتابونه اوليکل ـ ددغه تحريک متحرکينو کښې آقائے حبيبي صېب، عبدالشکور رشاد صېب ، صديق الله رښتين صېب، په پښتونخوا کښې عبدالخالق خليق صېب ، ميا احمدشاه صېب او داسې نور بې شمېره ليکوالو ګډون اوکړو. او پښتو نثر ئې د ارتقاء د پړاؤ نه راتېر کړو. او بيا ددغه قافلې يو غړے عبدالحليم اثر صېب چې د پښتو نثرليکل ئې خپل فرضيت ګڼلو ـ د دوي د نثر په ليکلو کامل عبورحاصل ؤ. او د نثر په مېدان کښې ئې صحافتي، ادبي، انشائيه او بيانيه اندازونه لرل ـ زود نويس او بلانويس دومره ؤ چې د موجوده زمانې په پښتنو ليکوالو کښې ئې بل څوک همسري نشي کولے. د پښتو ژبې نثري او شعري ادب لمن ته ئې څهٔ ۱۵۰ کتابونه او داسې څهٔ کم وزيات ۵۰۰ مقالې او مضمونونه او کالمې اوسپارلې ـ چې په هغې کښې ئې په تاريخ ، جغرافيه، سوانح، تذکره ، اسلامي تعليماتو وغېره باندې طبع ازمائي کړې ده ـ

د پښتو نثر په پرمختګ کښې ګڼ شمېر پښتنو ليکوالو د خپل علم او پوهې په رڼا کښې خپل کردار ادا کړے دے او دې ژبې له ئې وده ورکړې ده ـ لکه سليمان ماکو، پير روښان، اخوندرويزه بابا، عبدالقادر خان خټک، افضل خان خټک، مولوي احمد ،منشي احمد جان، سيد راحت الله راحت زاخيلي، خان عبدالغفار خان (باچا خان)، حکيم عبدالخالق خليق، حافظ محمد ادريس، سيد تقويم الحق کا کا خيل، ماسټر عبدالکريم وغېره او داسې نور ډېر ليکوال، دکومو په محنت چې د پښتوادب ته يو اعلٰی مقام حاصل دے ـ

دنثرد تحريک په دغه لړ کښې مونږه د عبدالحئ حبيبي صېب ادبي مکتب ته اوګورو نو په حقيقت کښې هغوي ډېرلوئے کار کړےدے او بيا په تېره تېره قاضي عبدالحليم اثر صېب، کوم چې د يو شاعر سره سره يو ښهٔ مورخ او نقاد هم تېر شوے دے ـ خپل همعصر ليکوالو کښې ئې يو خاص مقام لرلو ـ د پښتو نثر په هره حواله او په هره موضوع ئې طبع

ازمائي کړې ده ـ که يو خوا يو سياسي او بارُعبه شخصيت ؤ ـ نو بل خوا ئې د قلم په ذريعه خپل اولس ته د خېرخواهۍ نعره رسولې ده ـ او د پښتون د قام شناسۍ او د هغوي داستوګنې او د مذهب په حواله ئې ګټورمعلومات وړاندې کړي دي ـ هغوي دغه نثري مکتب په دوؤحصوو باندې وېشلے دے په کوم کښې چې يوه لويه برخه د پښتو ده او بله برخه ئې د اردو ده ـ په دې دواړو ژبو کښې د تاريخ، جغرافيائي ، اسلامي احکام، اسلامي تاريخ، د خېبرپختونخوا په حواله تاريخي مقالې او کتابونوليکلي دي ـ او په خصوصې توګه ئې په قبائيلي علاقو تاريخي ليکونه کړي دي ـ

قاضي صېب د مختلفو قومونو په تاريخ او تهذيب باندې ژوره مطالعه لرله ـ په تاريخ کښې د هغوي تحقيق نوؤ نوؤ زاويو ته اشارې کړې دي ـ خو د هغوي زياته مينه د خپل قوم،د هغوي تاريخ او ژبې سره وه ـ د مؤرخ او محقق په حېث قاضي عبدالحليم اثر افغاني پښتو ادب کښې يو ښکاره نوم دے ـ تاريخ کښې د هغوي مطالعه، تحقيق او تجزيه نه صرف د زړو نسلي نظرياتو توثيق دے، بلکې د تحقيق نوؤ زاويو ته ئې هم اشارې کړې دي ـ هسې خو هغوي سيرت نګارۍ، تذکره نګارۍ، اولسي ادب او د ادب په نورو شعبو کښې هم د تصنيف او تاليف ډېر کار کړے دے، خو د هغوي اهمه موضوع تاريخ دے ـ د هغوي د ناچاپو کتابونو په فهرست کښې چې کومې مسودې شامل دي د هغې نه معلومېږي، چې د پښتنو په ګڼو قبيلو او د پښتونخوا په ګڼو تاريخي موضوعاتو ئې تحقيق کړے دے، لکه پُشتي، پشتون پښتونخوا ، ګندهارا ، ارمړ، برکي، ګدون، موسوي سادات، ترين سادات، سادات افاغنه، مشواني، پښتون تاريخ (د پښتون قوم تاريخ اووه زره کاله د زړې زمانې د ثقافتي آثار قديمه په رڼا کښې) تاريخچه يوسفزي او افغان مؤرخين وغېره.

د قاضي صېب نثر مونږ د موضوع په لحاظ په څلورو حصو کښې تقسيموو کوم چې په دې ډول دي:

(۱) تاريخي نثر
(۲) سياسي نثر
(۳) مذهبي نثر
(۴) ادبي نثر

(۱) تاريخي نثر:

د تاريخي نثر په لړکښې قاضي صېب د پښتو ادب په پنګه کښې يو خاص مقام لري ـ د دوي چې څومره تاريخي ليک دے هغه د ستائنې وړ دے ځکه چې د دوي د دې تاريخي ليک نه ډېرو پوهانو، اديبانو او څېړنکارانو استفادې مونډلې دي ـ څنګه چې مونږ وړاندې عرض اوکړو چې د قاضي صېب خپل قوم، د هغوي تاريخ او ژبې سره ډېر محبت وو ـ نو په دې وجه هغوي د پښتون قوم تاريخي مزاج او عمراني حالاتو باندې زياته پوهه لرله او د هر مشکلې مسئلې تېر به هدف او فوري حل به د دوي سره موجود وو ـ

د قاضي صېب د تاريخي نثر چې کوم موضوعات مونږ له په لاس راغلي دي د هغې فهرست خو ډېر لوئے دے خو دلته به په هغې کښې يو څو وړاندي کړو لکه چې د دوي يو مقاله د "بهاګ" په عنوان د کوئټې په مجله اولس (پښتو) کښې قسط وار چاپ شوې ده، اولنے ټوک ئې نومبر، دسمبر ۱۹۷۵ء کښې، دوېم ټوک ئې په جنوري ۱۹۷۶ء کښې او درېم ټوک ئې په جولائي ۱۹۷۶ء کښې چاپ شوے دے۔ دا مقاله ټوله په اوويشتو صفحو باندې خوره ده۔ او په دې مقاله کښې قاضي صېب د "بهاګ" متعلق داسې ليکي:

> "د بلوچستان د يو تاريخي مقام نوم بهاګ (باګ) دے۔ چې د دې ملک په سرکاري دفترونو کښې د دې نوم "بهاک" ليکلے شوے دے۔ د ابوريحان البيروني په تاليف (ماللهند) چې د اردو ترجمې نوم ئې دے "کتاب الهند" او د هندوستان په مذهبي کتابونو کښې دا نوم (بهاګ) دے. د مصر او هندوستان په ديومالا (علم الاصنام) کښې دا نوم (باج-باګ-بهاګ) او (بج-بغ) راغلے دے- يعنې دا لفظ په پښتو او فارسي ژبو کښې (باګ) دے. د مصر په تاريخي ياداشتونو کښې (باج) او په هندي رسم الخط کښې (بهاګ) ليکلے شوے دے."(12)

د پورتنۍ حوالې نه د ثابته شوه چې قاضي صېب د يو لفظ "بهاګ" څو څو وار سپړنه کړې ده ، خو مطلب لا هم هغسې نيمګړے دے، ولې چې مخ په وړاندې هم ددې (لفظ) نور وضاحت کوي او داسې ليکي:

> "د بهګ لغوي معنٰی ده (لوئي-کلان- بړا) د بهاګ معنٰی ده- قسمت ظاهره ده چې د نمر (سورج-آفتاب) اسم صفت "بهګ" دے ځۀ وخت چې نمر (سورج) معبود اوګرځولے شو، نو په صفتي نوم (بهګ) ياد شو- د دې صفتي نوم ځينې نور نومونه بهګوان، بهګتي او بهګتو وغېره جوړ شول." (13)

د قاضي صېب يوه بله تاريخي مقاله "بلوچي نقوش" په عنوان د کوئټې په مجله اولس (پښتو) کښې قسط وار چاپ شوې ده۔ اولنے ټوک ئې فروري ۱۹۶۶ء کښې، دوېم ټوک ئې په مارچ ۱۹۶۶ء کښې ، درېم ټوک ئې په اپرېل ۱۹۶۶ء کښې، څلورم ټوک ئې په جون ۱۹۶۶ء کښې او پنځم ټوک ئې په جولائي ۱۹۶۶ء کښې چاپ شوے دے۔ دا مقاله ټوله په پنځه دېرشو صفحو باندې خوره ده او په دې مقاله کښې قاضي صېب په څلور زره کاله قديم بلوچي تاريخ او اثارو باندې بحث کړے دے۔ دې نه علاوه ئې د کلدانۍ، سريانۍ او قديم سنسکرت ژبو په حوالو سره پکښې د بلوچ په وجه تسميه او تاريخي څېړنې ډېر تحقيقي بحث کړے دے۔

د قاضي صېب د دې مقالې نه به د هغوي يو څو ټکي وړاندي کړو۔ کوم چې په دې ډول دي:

> " ما پخپله مقاله "سبّي" کښې د بلوچستان د دوېم تاريخ په حقله

بعض معلومات پېش کړي وو ـ په هغې کښې يوه مسّله دا وه چې د تاريخ د عالمانو دا خبره صحيح نۀ ده چې په ټوله دنيا کښې د "قديم سبائي تهذيب" فقط درې مرکزونه وو ـ بلکې يو څلورم "سبائي مرکز" هم وو ـ چې د هغې موجوده نوم "بلوچستان" دې ـ زمونږ د دې موجوده بحث نه به نوره هم واضحه شي چې د بلوچستان په "کلالي لوښو" چې کوم "نقوش" دي ـ په هغې کښې ګڼ "نقوش" په حقيقت کښې قديم ترين "سبائي ابجدي حروف" دي ـ(14)

قاضي صېب بيا مخکښې وائي چې:

"دا خبره به هم ستاسو په فکر کښې راشي، چې بلوچستان او جنوبي عرب دواره ګاونډي ملکونه دي ـ د "بلوچستان" په کلالي لوښو چې کوم "نقوش" مونږ ته په لاس راغلي دي ـ هو بهو دغه نقشونه مونږ ته په "جنوبي عرب" کښې هم په لاس راغلي دي ـ په دې وجه په دې باندې حېرانتيا نۀ ده پکار، که په بلوچستان کښې عربي (سبائي، ثمودي، فينقي) الفاظ هم مونږ ته په لاس راشي۔"(15)

دغه شان د قاضي صېب نور ډېر تاريخي مضمونونو، مقالو، کتابونو د پښتو ادب د تاريخي نثر غېره ډکه کړې ده او دغه کار په ادبي مېدان کښې دستائلو وړ دے ـ

(۲) سياسي نثر:

قاضي عبدالحليم اثر افغاني صېب دين له سياست نه جدا نۀ ويني که داسې نه وے نو سياست کښې به هغه هېچرې حصه نۀ وه اخستې ـ هغوي په خپل ينځوس کاله سياسي ژوند کښې په مختلفوسياسي تحريکونو کښې برخه اخستې وه او هر هغه سياسي کارکن ورته ښۀ ښکارېدو، چې پلار په نيکۀ به د انګرېزانو دشمن وو۔

د قاضي صېب د سياسي نثر په لړ کښې به د هغوي د يو مضمون نه څۀ حصه راوړو ـ کوم چې "د ازادئ په تحريک کښې د پښتنو برخه" سر خط لاندې په "پښتو" مجله ، پښتو اکېډيمي، پېښور پوهنتون کښې په کال جولائي، اګست ۱۹۹۷ء کښې د قاضي صېب د مړينې نه څۀ کم لس کاله پس شائع شوے وو ـ

"د برصغير پاک وهند په تاريخ کښې داسې موقعې څو څو واره پېښې شوي چې د ازادي تحريک شروع شوے دے نو د ټولو نه زياته حصه او قرباني په کښې د پښتنو ده ـ (16)

بيا وائي چې :

"مخکښې مونږه دې ته اشاره اوکړه چې د ازادئ په تحريک کښې د صوبه سرحد (خېبر پختونخوا) پښتانۀ او بيا زمونږ د قبائيلي

علاقو غېرتي قبائېلو لوے ځاني او مالي قرباني ورکړې دي ـ که مونږ د تاريخ پاڼې اولټوؤ نو داسې معلومېږي چې انګرېزانو په خپله دې د سلو کالو زيات حکومتي دور کښې تر ۱۹۴۷ء پورې د قبائېلو د لاسه يوه ورځ هم په قلاره نۀ ده تېره کړې ـ هر کله چې د برصغير مسلمانان د انګرېزانو د غلامۍ نه د دې وطن د ازادولو اعلان اوکړو نو هر چا نه اول د ازادۍ د پاره د جهاد او قربانۍ مېدان ته هم دې پاکستاني قبائېلو رادانګلي وو او بيا چې تحريک پاکستان ورپسې نور هم ګرم شو ـ د انګرېزانو او هندوانو سره مقابله نوره هم سخته شوه نو بيا د صوبه سرحد (خېبر پختونخوا) او قبائلو غېرتيان پښتانۀ په يو اتفاق مېدان ته راشريک شول ـ ځوانمردي ئې ښکاره کړه ـ د خدائے پاک امداد ورسره مل شو د دوي په کوشش کښې برکت پېده شو او اخر په څوارلسم اګست ۱۹۴۷ء د پاکستان په نوم يو ازاد اسلامي حکومت جوړ شو ـ"(17)

(۳) مذهبي نثر:

قاضي عبدالحليم اثر افغاني صېب د يوې مذهبي، علمي، ادبي او مجاهدې کورنۍ غړے ؤ ـ پۀ دې وجه دوي ته د درس نظامي پۀ طريقه تعليم ورکړے شوے وو ـ او د ۲۱ کالو پۀ عمر کښې ئې د مختلفو عالمانو نه مُتداَول علمونه لکه صرف ، نحو ، منطق ، حکمت ، طب ، رياضي ، بيان ، بديع ، معاني ـ فقه ، اصول ، حديث ، ادب او تفسير کښې فضيلت حاصل کړو ـ او د يوې درنې علمي او ديني کورنۍ سره د تړون په وجه په ټولو مشرقي ژبو ئې عبور لرلو ـ

قاضي صېب په مذهبي امورو کښې زيات ترليکل د سيرت په حواله کړي دي لکه رحمت للعٰالمين ﷺ او رهبر عالم وغېره ـ د سيرت انبياء په حواله ئې هم ګڼې تاريخي مقالې ليکلې دي ـ او دغه مقالې ئې د خېبر پښتونخوا په ګڼو رسالو کښې چاپ شوې دي ـ لکه جمهور اسلام ، لار ،اباسين، غنچه، خپلواک ، پښتون ، الحق (اکوړي) او خپل اخبار "انصاف" وغېره ـ

د نمونې په توګه د قاضي صېب د يو مقالې "رحمت للعٰالمين ﷺ" نه يو څو کرښې وړاندې کوو چې د قاضي صېب په مذهبي نثر پوهه ترې ځرګنده شي:

"حضرت نبي کريم عليه التحيۀ والتسليم ته چې کوم دين ورکړے شوے دے او خدائي مخلوق ئې هغې ته رابللے دے ـ او دا حقيقت نن ټولے دنيا منلے دے چې د انسانيت په مکمل تاريخ کښې اسلام يو داسې دين دے چې د دنيا د ټولو دينونو او مذهبونو نه که هغه

اسماني دي او که غېر اسماني دي یو عظیم دین دے ـ د ټولو نه زیات انقلابي دے ـ او د بني نوع انسان د بهبودۍ او بهترۍ د پاره د ټولو نه کامیاب تحریک دے ـ اسلام چې د تهذیب او ثقافت د پاره کوم خدمتونه کړي دي ـ د هغې مثال د بني نوع انسان په تاریخ کښې نه شي پیدا کېدلے او نۀ به پیدا شي ـ اسلام یو درمیانه مذهب دے ـ د اعتدال مذهب دے فطرتي دین دے ـ کوم سیرت، کوم کردار او اخلاق چې اسلامي تعلیم په یو انسان کښې پیدا کوي هغه د دنیا د بل هېڅ یو دین د تعلیاتو په ذریعه په انسانانو کښې نشي پیدا کېدلے وجه ئې دا ده چې اسلامي تهذیب چې په کومو عظیم ترین اخلاقي بنیادونو باندې بناء دے ـ او انسان ته چې کوم پاکیزه درس ورکوي ـ دغه درس ورکونکے پېغمبر رحمت للعٰالمین ﷺ دے ـ او د رحمت للعٰالمین ﷺ د منصب تقاضا دا ده چې د انسانیت شیرازه بندي دې په داسې اصولو سره اوکړے شي چې هغه موجب د نیک بختۍ او سعادت وي ـ"(18)

(۴) ادبي نثر:

قاضي عبدالحلیم اثر افغاني صېب د برصغیر د ازادۍ نه اګاهو د خپل وخت د مختلفو ادبي تنظیمونو یو اهم او سرګرم غړے و ـ قاضي صېب د ډېرو صفاتو او کمالاتو خاوند وو ـ حافظه یې دومره تېزه وه چې هر لوستے عبارت به ئې د کتاب د صفحو او سطرونو د شمېر سره یاد وو ـ او په خپل هر تحریر کښې به ئې د ګڼړو کتابونو حوالې داسې راوړې لکه دغه کتابونه چې ورته د لیک په وخت مخې ته پراتۀ وي ـ خبرې ئې خوږې پستې وې، ادبي لطائف به ئې ډېر په خوند خوند بیانول ـ په ځینو مضامینو کښې ئې هم دغه صفت ډېر په دلچسپ انداز کښې موجود دے ـ او د پښتو ادبیاتو په هر صنف ښۀ خبردار وو ـ په عربي او فارسي ادبیاتو ئې ښۀ پوهه لرله او په دې پوهه وو ـ چې د ژبې او ادب خدمت یۀ څۀ جوړ کول پکار وي ـ

د قاضي صېب د ادبي نثر په حقله ښاغلے ډاکټر حنیف خلیل صېب وائي چې:

د اثر صاحب شهرت زیات د څو اهمو علمي او ادبي بحثونو او لیکونو په ذریعه شوے دے، چې یو پکښې د هغۀ مرتب کړې ګڼ شمېر شجرې دي چې عموماً د صوفیانو او بزرګانو په خانداني سلسلو اړانا لري.

دغسې د هغۀ روحاني رابطه او روحاني تړون هم د دیني، اسلامي او تصوف سره متعلقه شخصیاتو په روحاني فیوضاتو مشتمل لیکونه دي، چې د اثر صاحب د علمي او ادبي کارنامو په لړۍ کښې شامل دي او د اثر صاحب د شخصیت سره زیات تړون او

شهرت لري.

عبدالحليم اثر افغاني د "پټه خزانه" کتاب په تنازعه کښې هم برخه اخيستې ده او دې لړ کښې ئې څو مقالې ليکلې دي، چې په ادبي حلقو کښې ئې حوالې ورکولې شي ـ"[19]

په ادبي نثر کښې به دلته د نمونې په توګه د قاضي صېب چې د ادب سر خط لاندې کوم ليکل کړي دي نو د هغې نه به يو څو کرښې وړاندې کړو:

"هر کله چې نثر او نظم د علمونو د بيان، د تاريخ، د ليکلو او د پوهولو راپوهولو دوه لوئے ذريعې دي، نو په دې دواړو کښې مهارت پېدا کول او د دغې مهارت په ذريعه خپل مطلب او خيالات په ښۀ شکل کښې ښکاره کول د ادب غايت او غرض ګڼلے شي ـ ـ ـ ـ ـ ـ اديب له پکار دي چې د يوې داسې ملکې او توان خاوند وي، چې د هغې په واسطه ښۀ او بد، پرېوتے او لوړ کلام پېژندلے شي ـ او دا صلاحيت او طاقت هم لري چې هر قسم معنٰی او مطلب په خوندناک، خوږ او صحيح عبارت کښې راولي ـ لنډه دا چې څوک د ژبې د علمونو په اصولو برابر څۀ وئيلے او څۀ ليکلے شي، هغۀ ته اديب وائي ـ[20]

قاضي صېب په خپل ژوند کښې ډېر کتابونه ليکلي او شايع کړي دي د هغۀ په چاپ شوو کتابونو کښې ډېر معياري او د علم و ادب او تحقيق په مېدان کښې ډېرد قدر وړ کتابونه په منظر عام هم راغلي دي. کومو چې هغۀ ته د شهرت او مقبوليت دوام وربخښلے دے ـ او تر قيامته پورې به د هغې په برکت په علمي او ادبي دنيا کښې په ښۀ نوم ياد ېږي ـ

◈◈◈

## References

1. Tair, Muhamamd Nawaz, Professor, Pukhtoo Nasar Sanga Raorasedo, Pukhtoo Nasar (Intikhab), Azeem Publishing House, Khyber Bazar, Pekhawar, Kaal 1985, Page No. 17 - 18.
2. Hum Dagha Page No. 19.
3. Asar Afghani, Qazi Abdul Haleem, Pukhtoo Tarikh (Da Pukhtanoo Muwarikhano Tazkira) (Makhtoota), Kaal 1962, Page No.21.
4. Tair, Muhamamd Nawaz, Professor, Pukhtoo Nasar Sanga Raorasedo, Pukhtoo Nasar (Intikhab), Azeem Publishing House, Khyber Bazar, Pekhawar, Kaal 1985, Page No. 17.
5. Rekhteen, Sadeeq Ullah, Da Pukhtoo Adab Tarikh, Dowaim Zal Chap, Page No.5.
6. Habibi, Abdul Hai, Da Pukhtoo Adbiyatoo Tarikh, Dowaim Zal Chap, Page No.12
7. Yousaf Zai, Sahar, Adab Sa dee? Shoaib Sons Publications and Book Sealers Swat, Driam Zal Chap, Kaal 1996 Page No. 31.
8. Akbar, Abdul Akbar Khan, Adabi Pangha, Manzoor-e-Aam Press, Pekhawar, Draim Zal Chap, Kaal 1995, Page No.102.
9. Asar, Abdul Haleem, Pukhtoo Adab, Idara-e-Darul Ishat Sarhad, Qisa Khwani Bazar, Pekhawar, Kaal 1950, Page No.70.
10. Yar Muhammad, Maghmoom, Rokhanyan awo Pukhtoo Adab, Pukhtoo Academy, Pekhawar Pohintoon, Kaal 2011, Page No.303.
11. Maryam, Bibi, Da Pukhtoo Da Nasar Tarikhi awo Tanqidi Jaiyza, Jadoon Presss Pekhawar, Kaal 1986, Page No.29.
12. Asar Afghani, Abdul Haleem, Bhagg, Mashmoola “Ulas”, Kaliza Garna, Quetta, Kaal November/ December, 1975, Page No. 16 – 17.
13. Asar Afghani, Abdul Haleem, Bhagg, Mashmoola “Ulas”, Kaliza Garna, Quetta, Kaal November/December,1975, Page No. 20.
14. Asar Afghani, Abdul Haleem, Bulochi Naqoosh, Mashmoola “Ulas”, Quetta, Kaal February,1966, Page No. 28.
15. Asar Afghani, Abdul Haleem, Bulochi Naqoosh, Mashmoola “Ulas”, Quetta, Kaal April, 1966, Page No. 26.
16. Asar Afghani, Qazi Abdul Haleem, Da Azadi Pa Tahrik Kee Da Pukhtanoo Barkha, Mashmoola “Pukhtoo”, Pukhtoo Academy, Pekhawar Pohintoon, Kaal July/August, 1997, Page No.101.
17. Asar Afghani, Qazi Abdul Haleem, Da Azadi Pa Tahrik Kee Da Pukhtanoo Barkha, Mashmoola “Pukhtoo”, Pukhtoo Academy, Pekhawar Pohintoon, Kaal July/August, 1997, Page No.103-104.
18. Asar Afghani, Abdul Haleem, Rehmatul Aalamin Peghambar (SAW), Mashmoola “Ulas”, Quetta, Kaal, July,1965, Page No. 8 - 9.
19. Khalil, Hanif, Doctor, Yawo Tasoor, Dur-e-Yateem (Qazi Abdul Haleem Asar Afghani Sakhsiyat, Ilmi awo Adabi Assar), Amir Print and Publishers, Peshawar, Kaal 2017, Page No.120.
20. Asar Afghani, Abdul Haleem, Adab, Pukhtoo Nasar, Intikhab, Azeem Publishing House, Khyber Bazar, Pekhawar, Kaal 1985, Page No.48.